Global Refuge

# د خپل تابعیت مرکې او ازموینې د بریالیتوب لپاره چمتو شئ!



**که تاسو د تابعیت (Form N-400) غوښتنلیک د 2025 کال د اکتوبر له 20 نېټې وروسته سپارلی وي، نو د خپل غوښتنلیک د پروسس، د امریکا د تابعیت او مهاجرت خدماتو ادارې (USCIS) مرکې، او د ۲۰۲۵ نوي د تابعیت مدني معلوماتو (Civics) ازموینې لپاره چمتو اوسئ.**

## څه شی بدلېږي؟

- د مدني معلوماتو (Civics) ازموینې نوې او اضافي پوښتنې
- د انګلیسي او مدني اړتیاوو لپاره د معلولیت استثناوو په اړه ډېرې جدي بیاکتنې
- د ښه اخلاقي شخصیت ارزونه به اوس د امریکا ټولنې کی مثبتو ونډو ته به هم پام کوي
- د ګاونډ او استوګنې سیمې پلټنې

## څوک به اغېزمن شي؟

هر هغه څوک چې د تابعیت د پروسې له لارې یې د امریکا تابعیت لپاره غوښتنه کړې وي یا د غوښتنې پلان لري، باید د هغو پالیسۍ بدلونونو په اړه خبردار پاتې شي چې ممکن د هغوی د غوښتنلیک پر پروسه اغېز وکړي.

## ولې دا مهم دي؟

هر کال زرګونه غوښتونکي خپل د تابعیت خوب ترلاسه کوي. د سمو معلوماتو او چمتووالي سره، تاسو هم کولی شئ بریالي شئ.

- ستاسو د غوښتنلیک بیاکتنې او مرکې لپاره چمتووالی به تاسو سره مرسته وکړي چې پوه شئ څه وکړئ کله چې تاسو یا ستاسو د پیژندل شوي چا څخه ستاسو د غوښتنلیک په اړه پوښتنې وشي.
- د سمو درسي موادو مطالعه د ازموینې په بریالیتوب او د امریکا د تابعیت ترلاسه کولو لپاره ډېره مهمه ده.

## د چمتووالي لپاره مرستې ته اړتیا لرئ؟

ځایي ټولنیز سازمانونه، کتابتونونه، او د لویانو د زده‌کړو مرکزونه ډېری وخت د تابعیت ټولګي او د انګلیسي ژبې د ملاتړ پروګرامونه وړاندې کوي. تاسو ممکن د وړیا یا ټیټ لګښت قانوني مرستې لپاره وړ وګرځئ! په یاد ولرئ، یوازې جواز لرونکي وکیلان یا د عدلیې وزارت (Department of Justice) پېژندل شوي او تصدیق شوي استازي قانوني مشوره ورکولی شي. د زپ کوډ لټون: (/http://www.immigrationadvocates.org/legaldirectory)

## ځان خبر وساتئ او له نن څخه چمتووالی پیل کړئ!

د امریکا تابعیت ته ستاسو سفر د سمو معلوماتو څخه پیلېږي.

د نورو سرچینو لپاره دلته ته مراجعه وکړئ.

د USCIS رسمي او وړیا معلومات دلته موندلای شئ https://www.uscis.gov/citizenship

globalrefuge.org/legalservices